عبدالعزيز نائيبي

۲۰۲۶/۰۵/۱۱

# پودکاست

## له راډيويي څپو،څخه، تر ډيجيټلي غږونو پورې

په ۱۸۷۷م کال کې امريکايي «توماس اديسون» د لومړي ځل لپاره د خپل جوړ کړي «فونوګراف» په وسيلې غږ ثبت کړ. ساکاټلندي فزيکپوه «جيمز کلارک مکسول» د الکترومقناطيسي څپو نظريه وړاندې کړه، او الماني «هاينريش - هرتز» بيا په عملي ډول ثابته کړه چې الکترومقناطيسي څپې شته او د فضا له لارې خپرېدی شي؛ د څپو د فريکونسي واحد د ده په وياړ «هرتز» نومول شوی ده.

د تکنالوژی په ډګر کې د پرمختګونو په دوام ايټاليوي «ګوليلمو مارکوني» په ۱۸۹۵م کال کې د الکترومقناطيسي څپو د لېږد عملي سيستم جوړ کړ او له څو مهمو تجربو څخه وروسته د راډيو مخترع ونومول شو.

د «ترانزيستوري» راډيوګانو په رامنځ ته کېدو، د راډيو کارول اسانه شول، نور راډيو په يو ځانګړي ځای پورې محدود پاتې نه شوه، راډيو ګرځنده شوه، د برق له لين پرته په بالتيو لګېدې، بنې يې وړې شوې او خلکو په اسانی کولی شوای چې په کورونو، کروندو او موټرونو کې راډيو واوري.

د ډيجيټلي راډيوګانو جوړيدو د غږ د اوريدو تجربه نوره هم په زړه پورې کړه او بلاخره په ۲۰۰۴م کال کې پودکاست د غږيزو رسنيو د يو نوې او معاصرې بنې په توګه راڅرګند شو چې نن ورځ د معلوماتو، زده کړې او تفريح لپاره په پراخه کچه کارول کېږي.

پودکاست ډيجيټلي رسنيز قالب يا د غږيزو فايلونو ټولګې ته ويل کېږي چې د انټرنټ په مټ، د ډيجيټلي پلټفارمونو لکه «سپاټي فای، سوند کلود، کاست باکس، اپل پودکاست او يوټيوب» له لارې د خپرېدو، اوريدو او داونلوډ وړ وي. پودکاست معمولاً په څو برخو باندې ويشل کېږي او هره برخه يو سرليک، لنډه توضيح، شمېره يا د خپريدو نېټه لري.

کله چې يو اوريدونکی د خوښې وړ پودکاست په انټرنيټ کې «سبسکرايب» يا تعقيب کړي نو د هغه نورې برخې په اتومات ډول وررسيږي او هر وخت يې چې زړه غوښتی وي، اوريدلی يې شي. د پودکاست هر برخه ممکن ځانته يوه ځانګړې موضوع وي يا د تېرو برخو د لړی دوام.

پودکاست په ويډيويي بڼه هم ثبت او خپرېږي، خو هغه اسانتيا او چټکتيا يې له منځه ځي چې يواځې د غږ ثبتولو سره وي. د ويډيويي پودکاست لپاره بايد ښکلی ځای، بګروند او مناسبه رڼا برابره شي؛ اوريدونکي هم هغه اسانتيا له لاسه ورکوي چې کولی شي د خپل موبايل له لارې نېږدې هر ځای پودکاست واوري.

پودکاستونه د بېلابېلو موضوعاتو په اړه جوړيدای شي، لکه: سياسي او تاريخي بحثونه، ديني خپروني، خبرونه، تعليمي او تفريحي مطالب، ټکل او داستان لوستنه، د موسيقۍ خپروني او نور معلوماتي موضوعات. د پودکاست چلونکي اکثراً يو کس يا هم يوه وړه ډله وي. پودکاست لاندې ډولونه لري:

**۱ -مونولوګ يا يوکسيز پودکاست:**

کوربه معمولاً خپله موضوع، نظرونه يا کيسې د ميلمه له لرلو پرته، په يواځې سر وړاندې کوي. په دې ډول پودکاست کې خبرونو ته هم ځای ورکول کېږي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

**۲ -مصاحبوي پودکاست:**

کوربه له یو یا څو تنو میلمنو سره مرکې کوي او د هغوی نظرونه، تجربې او معلومات د پوښتنو او ځوابونو په بڼه، وړاندې کوي.

**۳ -ډله‌ییز پودکاست:**

دوه یا څو تنه په ډلهییز ډول د یوې موضوع په اړه بحث کوي او خپل نظرونه وړاندې کوي. که څه هم دا ډول پودکاستجوړونه ډیرې همغږۍ ته اړتیا لري، خو د لیدلورو تنوع زیاتوي چې اوریدونکو ته په زړه پورې وي.

**۴ -داستاني پودکاست:**

دې ډول پودکاست کې تخیلي داستانونه په څو برخو کې وړاندې کېږي، لکه راډیودرامونه یا تلویزیوني سریالونه.

**۵ -غیر داستاني پودکاست:**

دې ډول پودکاست کې مستند او ریښتیني پېښې تر پوښښ لاندې نیول کېږي، مثلاً: ځنځیریزې وژنې، جنایي دوسیې، تاریخي واقعې او سفرونه.

**۶ -ځینې پودکاستونه د تخنیکي، علمي او فلسفي موضوعاتو په اړه هم جوړیږي.**

دا چې لومړني پودکاستونه څنګه جوړ او خپاره شول او تر دودیزو رسنیو یې ارزښت په څه کې دی، د «پودکاست سلوشن» په کتاب کې یې په اړه داسې لیکل شوي دي:

«د پودکاست جوړول په لومړي سر کې د هغو کسانو کار و چې په تخنیک پوهېدل او د نوې تکنالوژۍ د ازموېلو شوق یې درلود، له دوی سره ورو- ورو نور خلک هم یوځای شول او پودکاستونه یې جوړ کړل. یوې واده شوې جوړې په «ملوواکي» کې د یوې کرونډې له زاړه کور څخه د پودکاست خپرول پیل کړل. په «سن فرانسسکو» کې د راک موسیقي د ډلې یو ګیټارسټ د خپل ژوند کیسه او د ګیټار نغمې په خپرونو کې له اوریدونکو سره شریکې کړې او په «دینویر» کې یو ځوان پلار داسې خپرونه پیل کړه چې یواځې یې د نورو سندرې خپرولې.

پودکاست د پخوانیو دودیزو نورمونو په ماتولو سره بدلون راوستی دی. د پودکاست جوړونکی اړ نه دی چې د یوې خپرونې د جوړولو لپاره خامخا یوه ډیره سمباله سټدیو ولري؛ کافي دی چې یو میکروفون، کمره او کمپیوټر ورسره وي، غږېدا یې خوښه وي او د ویلو لپاره څه ولري. لنډه دا چې د پودکاست جوړونکی مجبور نه دی چې د سختو مقرراتو تابع وي او د خپلو خپرونو لپاره حتماً مصنوعي سپوږمکۍ یا انټن ولري.

هر څوک چې خپل لومړنی پودکاست جوړوي، کولی شي چې د نړۍ په هر ګوټ کې ان له هغو راډیو سټیشنونو څخه هم زیاتو خلکو سره اړیکې جوړې کړي چې د «اې.ام» او «اف.ام» ځواکمن ترانسمیټرونه لري. د پودکاست خپرونکی کولی شي چې په امریکا، نیوزیلند، جاپان، هند، فرانسه او د نړۍ په نورو هېوادونو کې ځانته اوریدونکي ومومي. پودکاست جوړونه اوس یو نړیوال خوځښت دی، پخوا یواځې حکومتونو او لویو شرکتونو دا امتیاز درلود چې په لوی شمیر اوریدونکي تر نشراتي پوښښ لاندې ولري، خو پودکاست اوس دا ځواک د خلکو په لاس کې ورکړی دی، څو دوی هم د نورو په څېر اوچت غږ ولري» (۱)

له هغه وخت څخه چې «سمارټ فونونو» او انټرنېټ ته لاسرسی پراخ شوی دی، خلکو ته دا زمینه برابره ده چې خپل غږ له نړۍ سره په اسانه شریک کړي. د پودکاست جوړونکي کولی شي پر داسې موضوعاتو باندې وغږیږي چې ممکن په دودیزو رسنیو کې ورته ځای نه وي. پودکاست ته انټرنیټي راډیو هم ویل کېږي خو له راډیو او راډیویي خپرونو سره یې څو مهم توپیرونه دا دي:

۱ -راډیویي خپرونې د فریکونسي په حدودو کې راګیر وي، پداسې حال کې چې د پودکاست اوریدونکي نړیوال وي؛ پودکاست د انټرنټ په مټ هر وخت او هر ځای اوریدل کېدای شي.

۲ -اوریدونکی کولی شي چې د پودکاست هره برخه څو ځلې واوري، ویې دروي او یا یې په نیمایي کې پرېږدي. که پودکاست یو ځل داونلود شي، بیا اوریدل یې انټرنټ ته اړتیا نه لري



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

۳ -راديو؛ ستيشن، انتن او فريکونسي غواړي، پداسي حال کي چي پودکاست کېدای شي يواځي د انترنيت له لاري خپور او په موبايل، تابليت يا کمپيوتر کي واوريدل شي.

۴ -راديو ډېرى وختونه ژوندى خپروني، خبرونه، سندرې، مرکې، اعلانونه او د اوريدونکو تليفوني اړيکي لري. پودکاست بيا له وړاندې څخه يوه ثبت شوې غږيزه خپرونه وي، چي منځپانگه يې ځانگړې، ژوره او معمولاً د يوې خاصې موضوع يا د اوريدونکو د يوې خاصې ډلې لپاره وي.

۵ -د راديو د ستيشن جوړول او ساتل ډېر لگښت غواړي، د پودکاست توليد لږ وسايل او کمو امکاناتو ته اړتيا لري. ميرمن «تووه - اوبرى» سويدنۍ ليکواله او پودکاستره ده، هغې د پودکاست په اړه يو کوچنى جيبي کتاب ليکلى دى چي د پودکاست جوړوني رازونه پکې سپړل شوي دي؛ د کتاب ځيني مهم ټکي په لنډ ډول دلته رااخلم:

«د پودکاست تر ټولو لويه ځانگړنه دا ده چي سړى کولى شي په يو وخت کي هم تفريح وکړي، هم پرمختگ او هم زده کړه. د انسان غږ ډېر ژور حس لري، ډېر داسي غږونه شته چي زړونو ته تاوده وربښي، ځيني خلک د همداسي غږونه په لټه کي وي.

د پودکاست په اوريدلو کي ازادي شته، موږ بې له دې څخه چي خپلې سترگې د موبايل پر ښيښي وگنډو، کولی شو ډوډۍ وخورو يا کوم بل ضروري کار ترسره کړو او په عين حال کي پودکاست ته هم غوږ شو. کله چي زموږ ماشوم يا پارتنر ويده وي او نه غواړو چي د کوټې څراغ بل کړو، په ارامۍ سره کولی شو چي د غوږيو په مرسته خپل د خوښې وړ پودکاست واورو.

**ولې مو د پودکاست جوړولو په اړه فکر کړى دى؟**

ځيني موضوعات چي ستاسو په نظر په زړه پوري او ارزښتمن وي او کولی شي د هغو په اړه اوږدې خبرې وکړې يا غواړې چي د خپل ژوند مهمې تجربې له نورو سره شريکي کړې؛ دا کار د پودکاست په جوړولو شونی دی. انسان ډېرى وخت له نورو سره د خپلو تجربو او پوهې په شريکولو، معنی او ارزښت مومي.

هو! کله چي په ژوند کي کوم هنري يا بل نوښتگر کار ترسره کوو ممکن خنډونه په مخ راشي، پودکاست جوړولو کي هم دا ستونزې شته؛ لکه د نورو له نظرونو څخه زموږ ويره؛ هغه ويره چي له ناکامۍ او شرم څخه يې لرو، هغه احساس چي انسان ورڅخه په تيښته کي دی - نو څه وکړو؟

ياداشت او فکري تمرين!

خپل فکرونه او نظرونه وليکئ او له يو باوري کس سره يې شريک کړئ، ترڅو خپل احساسات او نظريات ښه درک کړی، مثلاً:

د پودکاست له ثبتولو څخه مو هدف څه دی؟<br>
دا کار تاسو ته څه ارزښت لري؟<br>
کله چي لومړى برخه ثبت کړې، ځان ته به څنگه ښکارې؟<br>
په خپل برياليتوب څومره باور لرې؟<br>
بريا تاسو ته څه مانا لري؟<br>
په کومو برخو کي مرستي ته اړتيا لرې؟

کوم پودکاست چي ډېر لږ خپرېږي، ممکن خپل اوريدونکي له لاسه ورکړي. ځيني کسان خپل پودکاستونه د موسمونو په اساس تنظيموي چي د وخت په حساب پر سوژو د تمرکز ښه فرصت وي. فرض کړئ ستاسو د پودکاست د خپريدو کلنى مهالويش فبروري، جون، سپتمبر او دسمبر مياشتي دي، تاسو کولی شئ د دغو وختونو لپاره خپروني پلان کړئ او اضافي وخت مو د نويو سوژو د موندلو لپاره وکاروئ. ځيني نور کسان د پودکاست د ثبت او خپرولو لپاره ټاکلې ورځې غوره کوي، څو له اوريدونکو سره يې اړيکي منظمې وي. يوه بله طريقه دا ده چي خپروني ژوندى ثبت شي، چېرته چي اوريدونکي مرسته او همکاري کوي، لکه د «ويديوکال» له لارې يا له ستديو څخه بهر مخامخ اړيکي.

تاسو چي هر څومره په خپله د پودکاست له ثبتولو څخه خوند واخلئ، په همغه اندازه دا حس اوريدونکو ته هم لېږدول کېږي. اوريدونکي غواړي په پودکاست کي ستاسو حضور حس کړي، هغوی تاسو د پودکاست برخه گڼي او غواړي داډه شي چي په پوره شوق مو خپل کار ترسره کړى دى. (۲)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

پودکاست څنګه جوړ کړو؟

دا لاندې معلومات ما په یوې مقالې کې لوستې و، دلته يې تاسو درنو لوستونکي ته لنډیز وړاندې کوم:«

**۱ ـد موضوع ټاکنه:**

په سر کې د پودکاست اصلي موضوع وټاکئ. موضوع مو باید د خوښي وړ او دومره ځانګړې وي چې په اړه يې څو برخې خبرې وشې کړای. داسې څه غوره کړئ چې پرې پوهېږې او ورسره مینه لرې.

**۲ ـقالب او د نوم غوراوی:**

خپل توان او خوښي ته په کتو د پودکاست قالب وټاکئ، مثلاً: مونولوګ، مصاحبوي يا کوم بل ډول. وروسته ورته لنډ او مناسب نوم غوره کړئ، داسې یو نوم چې په یاد پاتې شي او له موضوع سره اړخ ولګوي..

**۳ ـد تصویر انتخاب او بصري ټابیاوې:**

د پودکاست بګروند ته یو جذاب تصویر جوړ کړئ. د بګروند تصویر لومړنی څیز دی چې د لیدونکي سترګې پرې لګېږي، د همدې لهپاره ډېر ارزښتمن وي.

**۴ ـد پیل، منځ او پای لهپاره د موزیک غوروای:**

یو لنډ او مناسب موزیک د هرې برخې د پیل، منځ او پای لهپاره غوره کړئ، دا ځکه چې ستاسو د پودکاست پېژندنه پیاوړې کړي او د اوریدونکو په ذهن کې تر ډیره پاتې شي. که کولی شي د پودکاست لهپاره یو ځانګړی موزیک جوړ کړئ.

**۵ ـد غږ ثبت:**

اوس د لومړۍ برخې د ثبت وار دی. په یو ارام ځای کې چې له شورماشور او اضافي غږونه څخه پاک وي، کښینې. له مناسبو اوزارو څخه کار واخلئ ترڅو غږ صاف ثبت شي.

**۶ ـاديت او تنظیم:**

له ثبت څخه وروسته د ځانګړو کمپیوټري پروګرامونو په وسیله، غږ ایدیت او اصلاح کړئ. اضافي ثبت شوي غږونه ترې حذف او د اصلي غږ کیفیت لوړ کړئ. د غږ ادیت کې کېدای شي نور غږیز افکټونو ورزیات شي، وروستي پړاو کې د غږ حجم برابر او بیا میکس کړئ.

۷ ـپه بېلابېلو پلتفارمونو کې د پودکاست خپرېدل:

په پای کې خپل وروستی غږیز فایل د پودکاست په یو کوربه سرویس کې اپلود کړئ، ترڅو د «ار اس اس» لینک جوړ شي. وروسته د خپل پودکاست هره برخه په خپرونکو پلتفورمونو لکه (کاست باکس، اپل پودکاست او سپوتیفای) کې ثبت کړئ ترڅو ستاسو مخاطبین وکولی شي په اسانۍ ورته لاسرسی ولري. د خپرولو پرمهال جذاب سرلیک او لنډیز ولیکئ، ځکه دا کار اوریدونکي د پودکاست اوریدو ته هڅوي.

**د پودکاست د جوړولو اوزار:**

**۱ ـمیکروفون:**

مکیروفون د پودکاست د جوړولو له پاره تر ټولو مهمه وسیله ده. په پیل کې کولی شي چې د دینامیک میکروفونونو څخه چې ارزانه دي کار واخلئ، دا میکرفونونه ستاسو غږ روښانه ثبتوي او د چاپېرپال اضافي غږونه کموي. که بودیجه مو زیاته وي نو د کاندنسر له میکروفون څخه ګټه واخلئ، ځکه تاسو ته د ډېر لوړ کیفیت غږ درکوي، خو داسې یو چاپېریال ته اړتیا لري چې هغه «ایزولیره» شوی وي.

۲ ـد میکروفون پایه او د پاپ فیلټر:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د میکروفون پایه په مناسبه ارتفاع کې د میکروفون د تمولو اسناتیا برابروي، د پاپ فلتر د خولې مخې ته برابرېږي ترڅو د« پ، ب، ټ، ډ» په څېر د ځینو تورو سخت ټکانونه شنډ یا نرم کړي. پاپ فلتر د خولې او مایک ترمنځ د یوې نرۍ پردې په څېر راځي او د هوا سخت ټکان نرموي، څو غږ روښانه او صاف ثبت شي.

**۳ -د ثبت چاپېریال:**

د پودکاست د ثبت لپاره خامخا یوه ارامه او د امکان تر حده د ایکو او نورو اضافي غږونو څخه پاکه کوټه انتخاب کړئ. په یو مناسب چاپېریال کې ثبت، د پودکاست کیفیت سره لویه مرسته کوي.

**د پودکاست محتوا او د تولید مهم ټکي:**

**په منظم ډول خپرول:**

د امکان تر حده په اونۍ کې د پودکاست یوه برخه تولید کړئ. د پودکاست په خپرولو کې ثبات د دې لامل ګرځي چې اوریدونکي تاسو تعقیب کړي. د دې کار لپاره باید ټاکلی مهالویش ولرئ او هڅه وکړئ د خپرولو وخت ته ژمن پاتې شئ.

**پر موضوع تمرکز:**

پودکاست باید پر یوې ځانګړې موضوع راوڅرخېږي. د یوې خاصې او په زړه پورې موضوع غوراوی د دې سبب ګرځي چې په لوی شمیر وفاداره اوریدونکي ومومي.

**د غږ کیفیت:**

دا چې د پودکاست محتوا غږیزه وي، نو د غږ کیفیت پکې زښت زیات ارزښت لري. له مناسب میکروفون او هیدفون څخه ګټه واخلئ او تر ثبت وروسته حتماً خپل غږ وارزوئ. د اضافي غږونو حذفول، د لوړ غږ تنظیم او مناسب میکس، ستاسو د کار اعتبار لوړوي

**جوړښت او مقدمه:**

د پودکاست هرې برخې ته یوه لنډه مقدمه او یو ځانګړی پای طرحه کړئ، لکه: د هرې برخې د موضوع پېژندنه یا د تېرې برخې «ریکپ» یا لنډه یادونه. د هر پودکاست د پیل او پای لپاره ښه پلان مرسته کوي چې تاسو اصلي مطلب هېر نه کړې او اوریدونکي هم له تمې سره سم، پودکاست اوري.

**خلاقیت او تعامل:**

د دې لپاره چې پودکاست په زړه پورې شي، له موسیقۍ یا غږیزو افکتونو څخه کار واخلئ. کله چې د پودکاست یوه برخه خپره شوه، په بله برخه کې یې کولی شې چې د اوریدونکو پوښتنو او نظرونو ته ځواب ووایاست، دا کار له اوریدونکو سره ستاسو اړیکې ټینګوي. پر دې سربېره د خپل پودکاست له خپرولو څخه مه ویرېږئ او په لومړي سر کې هغه له خپلو دوستانو او اشنایانو سره شریک کړئ ترڅو د هغوی په نیوکو، نظرونو او وړاندیزونو باندې پوه شئ.» (۳)

**سرچینې:**


۱- Geoghegan, Michael W., and Dan Klass. Podcast Solution: The Complete Guide to Audio and Video Podcasting. 2nd ed. New York: Apress,2007,pp.1-2.
۲- Öberg, Tova Eloa. Starta podcast: De enkla grunderna för hur kommer i gång. BoD – Books on Demand, 2022.
۳ -طاهران پور، ملیکا – عسکری، مصطفی(۱۴ سنبله ۱۴۰۴)، «پادکست چیست؟ بهترین راهنمای ساخت پادکست»، ویب سایت: https://www.zoomit.ir/howto/371957-how-create-podcast-ultimate-guide/




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ